# د پښتنو د قومي انفراسټرکچر

# د تشکیلِ نو ضرورت

خان زمان کاکړ

جنګونه د کېفیتي بدلونونو باعث ګرځي. د بدلون د مثبت او منفي اپروچ نه یو خوا ته جنګ په ټولنه کښې د انتشار او اضطراب سبب جوړېږي. دا انتشار او اضطراب په مادي او معنوي دواړو حوالو مخې ته راځي. څومره چې جغرافیه، خاوره، کلي او ښارونه بدرنګوي، په هم هغومره کچه ذهني او نفسیاتي ستونزې هم راپیدا کوي. د جنګونو په سبب په ټولنه کښې هغه اداري له ماتې سره مخامخ کېږي، کومې چې د یو قام په کلتوري تشکیل کښې د بنیادي اجزاوو (fundamental factors) په حېث برخه لري.

په دې تفصیل کښې تلل نهٔ غواړو، چې د پښتنو په وطن کښې د مسلسل جنګ او مزاحمت له کبله څومره کلتوری، معاشي، سیاسي او سماجي زیانونه راپه برخه شول. البته دومره ضرور وایو چې په دې جنګونو او مزاحمتونو کښې هیڅ یوه قامي اداره په سالم او صحت مند شکل کښې پاتې نهٔ شوه. یو بنیادی عامل دلته دا هم ذکر کېدے شي چې کله د پښتنو ملي حاکمیت د ګواښ سره مخامخ شو، په ټولنیز لحاظ ګنې بدخوندۍ راپیدا شوې.

د پښتنو په وطن کښې د اخ و ډب په مهال قبائلي روایات په هر حال محفوظ ساتل د دښمن موخه وه. نوآبادیاتي نظام په ټولنه کښې د هغو عناصرو د بشپړ استحکام لپاره پوره فعالیت لرۀ، کوم چې د جدیدیت او نوښت په وړاندې لوئے خنډونه ایجادوي. د ټولنې قدیم سټرکچر ته ئې د تقدس جامې ورواغوستلې او د هر ډول تنقید نه ئې مبرا وګرځوۀ. ددې په څنګ کښې ئې د قبائلي شجر نسبونو په رڼا کښې د پرې جنبې عمل هم ګړندے وساتۀ، چې د ملي حاکمیت او یو مرکزیت تصور شنډ پاتې شي. په دې خبره کښې شک نشته چې پښتنو ته تر جغرافیائي تقسیم زیات نقصان قبائلي تقسیم رسولے دے. کله هم چې پښتنو قامي جوړښت ته د لارې ایستلو کوشش کړے دے، سمدستي د قبائلي تفخر او نرګسیت نفسیاتو ته وده ورکړې شوې ده. خو بیا هم په پښتنو کښې د هغو روایاتو نښتي نهٔ ده پاتې شوې، کوم چې د هغوي د وطن د استقلال ضمانت ورکوي. دا هم یو تاریخي حقیقت دے چې د جغرافیائي تقسیم عمل جبرؤ، پښتنو کله هم دا نهٔ دے منلے.

مونږ په لر او بر وطن کښې د یو ډول سرنوشت سره مخامخ یو. خو د دې یو ډول سرنوشت په حقله یو ډول عکس العمل ولې نشته؟ د دې نکتې په ارزښت د یو مرکز په تصور زرخیز زړونه او ذهنونه په ښه توګه خبر دي.

د پښتنو وطن ته چې ئې جنګ راننه ویستو، تر ټولو وړاندي ئې پکښې هغه روایات قتل کړل چې په تاریخ کښې ئې د هغوي د ملي او جمهوري ذهنیت تشکیل کوۀ. د افغانانو ملي او جمهوري ذهنیت دا ؤ چې د اجتماعي مسائلو د هواري لپاره هغوي شریک لائحه عمل د جرګو په شکل ترتیبوۀ. د لویو جرګو تاریخ د افغانانو د جمهوري کلتور د ثبوت یوه زښته درنه او مستنده حواله ده. دښمن چې مو په وطن کښې هر څۀ قتل کول، تر ټولو وړاندي ئې د دې درنې او مستندې حوالې د قتل فریضه تر سره کړه. د ټېپلونو نه ئې مسئله مورچلونو ته یوړه. مورچلونه پردي وو، د پردیو مفاداتو مدافع وو. مورچلونه په هره معنٰي د انتشار او تخریب علامتونه وي. په لر او بر افغانستان کښې د دې علامتونو ټوله سابقه له بربادۍ، تباهۍ او بدمرغۍ نه عبارت ده.

د لوئې افغانستان د دې بربادۍ، تباهۍ او بدمرغۍ په تسلسل کښې مستعمره پښتونخوا د دوزخي حالاتو سره لاس او ګرېوان وګرځېده. په اوس وخت کښې د پښتنو مجموعي حالت یقیناً چې د اطمینان وړ نۀ دے. وسائل مو په پردیو لاسونو کښې دي، اقتصاد نۀ لرو، مکتبونه مو کنډوالې دي، کتابونه نشته، په مطبوعاتو کښې خوار یو، ثقافتي مرکزونه مو وران دي، ژبه مو بې واکه، بې دفتره او بې مارکېټه ده، سیاسي مرکزیت او ادبي سرپرستي نۀ لرو، د حجرې او جومات تحفظ نۀ لرو، لنډه دا چې قامي انفراسټرکچر مو وران دے، ځکه خو وران یو، د سر د بقاء جنګ را په غاړه دے. خو د دې مطلب دا هم نۀ دے، چې قامي نفسیات دي په مایوسۍ او نااميدۍ ولړلے شي بلکې په یو سنجیده چوکاټ کښې په اکېډمیکو بنیادونو د سوچ او فکر په خوا د دقیقې پاملرنې ضرورت دے.

ټولې بدمرغۍ مو د تاریخ جبر سهي، خو د تاریخ د جبر د مقابلې یوه لېونۍ جذبه هم باید چې وي. په وطن کښې روان حالات خود بخود او اتفاقاً نه دي پېدا شوي، په تاریخي حواله دې حالاتو ته ځینو خارجي او داخلي رجحاناتو انرجي ورکړې ده. د دې رجحاناتو مطالعه پکار ده. خو د مطالعې دا عمل هغه وخت یوه مثبته نتیجه ورکولې شي، چې په پس منظر کښې ئې یوه علمي دیانتداري او ایمانداري موجوده وي. د خارجي عواملو څېړنه کۀ هر څو اسانه ده، خو په دې کښې به هم د دیانت او انصاف لمن پرېښوول پکار نۀ وي، افراطیت ته به هڅه کول موخه نۀ وي بلکې ځان ته معتدل چوکاټ تراشل به پکار وي. خو د داخلي، قامي او ټولنیزو رجحاناتو څېړنه یو مشکل کار دے، ځکه چې دا د خود تنقیدۍ او خود احتسابۍ صلاحیت غواړي. چې په مجموعي حواله ئې ګنجائش ډېر کم لیدل کېږي. په حېث د قام مو نفسیات د برترۍ او نرګسیت عادي ګرځېدلي دي. دا برتري او نرګسیت مو په هر حال کښې د خود تنقیدۍ او خود احتسابۍ د عمل نۀ لرې ساتي، په یو داسي صورتحال کښې مو ښکېل ساتي چې پښتون په تاریخ کښې د خپلو فتوحاتو، واکمنیو او بریالیتوبونو د ټولو دعوو باوجود له ماتو، محرومو او ناکامیو سره مخامخ دے. دا بیا بله بدمرغي ده، چې د دې ماتو، محرومو او ناکامیو اعتراف ته غاړه نۀ اېښودل کېږي او کۀ څوک اعتراف کوي هم نو جذباتیت او افسانویت ورباندي واکمن وي. ټوله پړه په پردیو وي، پښتون بیا هم په ټوله دنیا کښې سپینه فرشته وي. په ټولنه

کښې داسې ادارې پکار وي، چې هغه د اعلیٰ او ارفع قامي قدرونو ترويج وکړي او د منفي او فرسوده قدرونو په ضد منظم پلان ولري. دا ادارې بايد په ټولنه کښې د تخريب د ګنجائش په کمولو کښې کليدي ونډه ولري. په يوه ټولنه کښې ولې شدت، جارحيت او ملائيت ته ځائے پاتې کېږي؟ د دې سوال ځواب په تاريخ کښې لټول اسان دي خو چې د بحث او مکالمې کلچر وي، د برداشت او رواداري نفسيات وي. مونږ وران يو، تباه يو. ولې وران او تباه يو؟ په دې حقله څوک څۀ نۀ راسره شريکوي. په نورو ټکو دلته اکثر واقعات ذکر کېږي خو د واقعاتو په بنياد او عواملو بحث نۀ کېږي. د مسائلو نشاندهي خو کېږي لېکن د نجات نسخه څوک نۀ شي په ګوته کولې. هر څوک تحفظات لري، تنقيد کوي خو تګلاره نۀ شي ټاکلې. دانشوره طبقه مو د عملي ژوند او عملي ډګر نقشه د کمنټس ورکولو په وخت په وړاندې نۀ ږدي. د دانش تقاضې نۀ پاللې کېږي بلکې جذباتيت او افسانويت حاوي رجحانات دي. نفسيات مو د ګېلې او پېغور عادت دي. د ژوند په هر ډګر کښې د غېرت مسئلې ته مو بنيادي حېثيت ورپه برخه دے. بدمرغي دا ده چې د غېرت فلسفه مو له تعقل پسندۍ او سنجيدګۍ نه سرچېنه نۀ اخلي بلکې په جذباتي او غېرعلمي بنيادونو ولاړه ده. هم دا رويه مو پرديو قوتونو د خپلو مقاصدو لپاره په پراخه پېمانه استعمال کړې ده. د غېرت په تنسته بُوده کښې مو له پېړيو د عقيدوي عنصر په شدت سره شامل اوسېدل د لويو قامي الميو سبب ګرځېدلے دے. دا چې دا عنصر له افراطي چوکاټ نه څنګه يوې معتدلې زاويې ته راستنېدلے شي؟ په دې حقله تر اوسه د بحث او مکالمې کوم منظم عمل مخې ته رانغلو. په دې حواله د سوچ او فکر عمل شنډ دے. داسې علمي او ادبي ادارې نۀ لرو چې د تاريخي عواملو په رڼا کښې د نجات لاره وسنجوي.

مونږ نن تر هر دور زيات جرګو ته اړتيا لرو. د لويو جرګو د کلچر بيا ژوندي کول غواړو. خو دا جرګې د اتفاق په روايتي سوچ ولاړې ساتل به بې نتيجې عمل ګرځي. د جرګو لپاره د اکېډميکو بنيادونو ضرورت دے. په بدلېدونکې نړۍ کښې د نوو سائنسي او سياسي رجحاناتو په رڼا کښې د قامي مسائلو په اړه د جرګې نه د يوې داسې ادارې په شکل کار اخستل غواړي چې هره مباحثه ئې يوه موثره نتيجه هم ولري.

د ټولنيزو اصلاحاتو عمل چې په لروبر افغانستان کښې ئې د باقاعده بنياد ايښودنې شمله د پښتنو د باچا غازي امان الله خان او فخرافغان باچاخان په سر ده، په منظمه توګه مخ په وړاندې بوتلل غواړي. د اصلاحاتو عمل د خپلې ټولنې د داخلي رجحاناتو د تنقيدي تجزيې جسارت راکوي. د نړيوالو حالاتو له کبله چې د اصلاحاتو دا عمل څنګه نيمګړے پاتې شوے ؤ، له نوي سره ئې پېلول د معاصرو حالاتو غوښتنه ده. زمونږ کلتور اوس هم داسې فېکټرونه په خپل سټرکچر کښې خوندي ساتي چې د قامي پرمختګ په وړاندې خنډ ګرځي. د دې فېکټرونو د اصلاح عمل ته جدي اوسېدل پکار دي. خو دا عمل بايد چې تېز نۀ وي ځکه چې په دې کښې تېزي په ټولنه کښې انتشار او اړے ګړے پېدا کوي. ځکه چې بدلون کوم ناڅاپي عمل نۀ وي او نۀ کوم اسان عمل وي. په دې حقله د تېرو دورونو د تېزو اقداماتو نتيجه بايد د يو سبق،

عبرت او تجربې په توګه زمونږ په وړاندې وي. بدلون په خپل يو رفتار سره مخ په وړاندې ځي. کوشش بايد دا وي چې د بدلون په وړاندې خنډ ايجاد نهٔ شي ځکه چې دا په ټولنه کښې جمود پيدا کوي.

د هر بدلون په پس منظر کښې د اقتصادي حوالې بنسټيز رول وي. مونږ په وطن کښې پراخ وسائل لرو او په دې وسائلو ځان په نړۍ کښې خودکفيل ګرځولی شو. دا وسائل کهٔ چرته په استعمال کښې نهٔ دي او کهٔ په پردي تصرف کښې دي. د دې خبرنه دي وشي. زمونږ معلومات په دې حقله په منتشر شکل کښې دي. په باقاعده توګه معاشي ډېټا نهٔ ده کليکټ شوې. نن په وطن کښې د معاشي ماهرينو دومره نېستي هم نهٔ ده چې دا کار به هم تر سره نهٔ کړي. قومي سياست بايد دا کار خپل مسوولیت وګرځوي.

د بدلېدونکي نړۍ په تناظر کښې خپل داخلي سټرکچر ته د نويو رجحاناتو او حالاتو په رڼا کښې د تنقيدي پاملرنې ضرورت دے. په نننۍ نړۍ کښې د ترقۍ او پرمختګ راز ته په کتلو سره د پښتني کلتور د مثبتو او منفي قدرونو برجسته نشاندهي پکار ده. په دې عمل کښې د سياسي نهضتونو، ادبي، صحافتي او ثقافتي ادارو او دانشورانو رول څهٔ جوړېږي. د منصبي فريضې په ډول د يو سنجيده ګام غوښتنه د دې عصر غوښتنه ده.

> مونږ د روانو حالاتو سيالي په دې توګه کولے شو چې د بحث او مکالمې رجحان Develop کړو، په ټولنه کښې جمهوري روايات پياوړي کړو. په افغانستان کښې چې کوم پارليماني سسټم په وجود کښې راغلے دے، د دې مرسته يقيني کړو.

پښتنانهٔ يو ناليکلے آئين د "پښتونولۍ" په نوم لري. په دې آئين کښې زياتې مادې (قدرونه) د نړۍ د جمهوري، مهذب او مترقي روح تقاضې پوره کوي. خو په دې کښې داسې مادې هم شته چې د ترقۍ، جمهوريت او روښن خيالۍ د عمل په وړاندې خنډ ګرځي. په دې آئين کښې د اجتهاد ګنجائش څومره دے؟ دا ګنجائش په اوسني عصر کښې کافي دے او کهٔ زيات ضرورت ليدل کېږي؟ د کلتور نه بُت جوړول رجعت او واپسۍ ته دعوت ورکول وي. کلتور کامل ګڼل ځان ته د وروستو پاتې والي لار کتل دي. کلتور تغير پذير څيز دے، په دې کښې لچک (flexibility) پکار وي. هم هغه کلتور په دنيا کښې ځان ژوندے ساتي چې د قبلولو صلاحيت (adaptability) پکښې وي. مونږ بې نړۍ نهٔ شو اوسېدلے، مونږ يواځې ژوند نهٔ شو کولے. په ټولنه کښې د نړۍ لپاره د خپلولۍ او ورورولۍ رشتو ته وده ورکول پکاره ده. د انسانانو د مشترکو قدرونو ترجماني پکار ده. په ځانګړې توګه ادب بايد نور زيات په مقاميت کښې ښکېل ونهٔ ساتل شي. د مقاميت ارزښت مسلم دے خو آفاقيت ځان له ډېر لوړ حثيت لري.

جمهوريت او سيکولرزم د اوسني عصر د انسان نجات دهنده سسټمونه دي. د ترقۍ او پرمختګ راز هم په دې پورې غوټه دے. سائنس،

فلسفه، آرټ، معیشت او سیاست هم په دې کښې وده کولې شي او د بني نوع انسان په لویه ګټه تمامېدلے شي. د امن او ثبات تامین هم په یوه جمهوري او سیکولر ټولنه کښې ممکن ګرځي. آیا مونږ کله په دې سوچ کړے دے چې د پښتنو د وطن په بې امنۍ او بې ثباتۍ کښې خو به تر ټولو لوئے رول د تهیوکرېسي نۀ وي؟ په ازاد نظر څېړنه مو له دې حقیقت سره مخامخ کوي چې د پښتنو د سماج د تهیوکرېټک اپروچ نه هر چا په هر دور کښې ګټه اخستې ده او د عقیدې د افراطي استعمال په نتیجه کښې شدت پسندي او بنیاد پرستي راپېدا شوې ده.

ربښتیا خبره دا ده چې کله په ټولنه کښې د رواداري، نېستې وغورېږي، د شکست و ریخت عمل پېل شي. چې د خلقو تر منځ د بحث و مکالمې رشتې ورکې شي، جنګي نفسیات واکمن شي. د جذباتیت، جنون او جارحیت معنٰي دا وي چې په ټولنه کښې د جمهوري رویو فقدان پېدا شوے دے. په نورو ټکو شدت پسندي او بنیاد پرستي هغه وخت په ټولنه کښې جرړې نیسي چې عقلي سسټم له ماتې سره مخامخ وي، زړونه او ذهنونه د برداشت له مادې نه بې برخي وي او د تخلیقي رویو په ځائے منقولات برلاسي وي.

مونږ د روانو حالاتو سیالي په دې توګه کولے شو چې د بحث او مکالمې رجحان Develop کړو، په ټولنه کښې جمهوري روایات پیاوړي کړو. په افغانستان کښې چې کوم پارلیماني سسټم په وجود کښې راغلے دے، د دې مرسته یقیني کړو.

د صنفي او جنسي امتیاز په ضد مبارزه پکار ده، په سیاست کښې د مېرمنو پراخه ونډه لازمي ده. د جینکو تعلیم ته باید خصوصي پاملرنه وشي. د مکتبونو پلو پام اړول غواړي، وران مکتبونه بیا ودانول غواړي.

ثقافتي او هنري مرکزونو چې مو کومې المیې تېرې کړي دي، د دې جبران (ازاله) پکار دے. په دې لړ کښې د نړېوالې ټولنې مرسته ضروري ده. کله چې فن مړ شي، ژبه مړه شي، نو قام مړ شي. مونږ قام مرګ ته نۀ شو ورکولے.

د پورتني بحث په تناظر کښې په زغرده وئیلے شو چې د پښتنو قامي انفراسټرکچر بیرته له نوي تشکیل ته اړتیا لري. د دېرش کلن جنګ وجدل په نتیجه کښې ورانه شوې سول سوسائټي نوے تعمیر غواړي. د دې لپاره تر ټولو وړاندې د سر د بقاء د مبارزې مرسته یقیني ګرځول دي. په دې لړ کښې دنیا د کیڼ او ښي د امتیاز باوجود په دوو ډولو وېشلې ده، یو هغه چې جنګ ته دوام ورکول غواړي او بله ډله د امن او صلحې ملګرتیا کوي. د دنیا په دې سیاست کښې د خپل قامي رول تعین، په سیمه کښې د روانو مترقي او جمهوري سیاستونو مرسته او د خپل وطن د قامي مبارزې او د عدم تشدد د فلسفې ملګرتیا مو د روښان او ځلان مستقبل ضمانت کولے شي.

khanzamankakar.kakar@gmail.com

